آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۳/۱۹

# یو ځل بیا د فرخندې د وینو سره خالونه

د کابل سین پر دیوالونو او د اندرابي واټ د پاسه او د تولو با احساسه او چیز فهمه خلکو د ذهن پر واټونو او دیوالونو باندې، د فرخندې د وینو سره داغونه، پر ما، پر تا، پر عدالت، پر شریعت، پر دولت، پر ملت او پر... باندې اوس هم خاندي.

هغو لیوانو چې د فرخندې په نامه زموږ د وطن یوه تنکۍ هوسۍ وداړله او د خپل وحشي طبیعت له ارضا وروسته یې بیا وسوځوله؛ اوس هم د نورو هوسیو د داړلو له پاره په کمین کې پراته دي؛ خو فرخنده او نورې هوسۍ...

ما یو کال مخکې د «فرخنده سوزان» د غمیزې په پار د «اول وهي بیا سوځوي مې، خلاصولای مې شئ؟» تر سرلیک لاندې خو کرښې او یو توټه شعر لیکلې و، د فرخندې د یاد ژوندي ساتلو په موخه لومړی یاد شعر:

عرض:

آهای !!!

د لوړو کلو خلکو!

غږ مې در رسي که نه؟

دغه دی چغې وهم:

وژني مې،

وهي مې،

سوځوي مې،

خلاصولای مې شئ؟؟؟

۲۰۱۵/۰۳/۲۰
هیدرسلیف، ډنمارک

او دا هم د لیکلي مقالې لینک:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/bahand_a_wahy_me_swazawy_me.pdf


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ